# د ۴ مي برخې ملاتړ

اپريل ۲۰۱۱

Section 4 support - Pashto

HAPPY TO TRANSLATE

## د څلورمې برخې ملاتړ څه شی ده؟

که ستاسو د پناه غوښتنه په مکمله توګه رد شوې ، د پناه هغه ملاتړ به بند شي چې تاسو يې د کورنيو چارو وزارت(د برتانيای حکومت د داخلي چارو رياست) نه تر لاسه کوئ. تاسو به د کورنيو چارو وزارت نه يو ليک ترلاسه کړئ چې تاسو له دې څخه خبروي. په هر ترتيب، تاسو شايد د ۴مي برخې ملاتړ لپاره و ټاکل شی. د ۴مي برخې ملاتړ د کورنيو چارو وزارت له خوا په کار اچول شوی، لنډ مهاله ملاتړ دی. مګر دا له مخکني ملاتړ سره چې تاسو به له ګڼ شمېر لارو نه ترلاسه کاوه متمايز دی:

۱. **شين کارت**: تاسو به نغدې پيسې ترلاسه نه کړئ. ستاسو اونيز ملاتړ به د پيسو د ادايني شنه کارت ته اضافه شي، شين کارت د Asda او Tesco په شمول، ټاکلو پلورنځيو کي استعماليدای شي، د اړين توکيو اخيستلو لپاره لکه غذا، د ښايست وسايل ، د پاکوالي توکي.

۲. **سهمي اوسيدنه:** که تاسو مجرد ياست، اړينه ده چې تاسو اپارتمان له نورو همجنسو خلکو سره شريک کړئ;

۳. **نه ټاکلو اوسيدنه:** تاسو به د ۴مي برخې اوسيدنې کې د يوه اپآرتمان يوازې يو وړانديز ترلاسه کړئ. که تاسو د ځينو لاملونو له مخې دا وړانديز رد کړئ. د کورنيو چارو وزارت شايد ستاسو ملاتړ بند کړي؛ او

۴. يوازې ملاتړ، د اختيار نه شتون: د دې اختيار نه شته چې خپله شخصي اوسيدنه ترتيب کړئ **او** د څلورمې برخې د پيسو د ادايني سندونه ترلاسه کړي.

## د ۴مې برخې ملاتړ لپاره څوک ټاکل کيږي؟

د اسکاتلند د کډوالو شورا(سکاټش رفيوجي کونسل) کولای شي له تاسو سره د ۴مې برخې ملاتړ غوښتنې کې مرسته وکړي، که فقير ياست. او تاسې د دغو لاندې معيارونو تر **يوه** لاندي ته ټاکل کيږئ:

۱. **نوي پناه غوښتنه\دبشري حقوقو غوښتنه:** که ستاسو قانوني نماينده د سرپناه لپاره يوه نوې غوښتنه کړې ده يا يوه ورستۍ غوښتنه. اړينه ده چې داغوښتنه له مخکي ليږل شوې وي. او مونږ به د ليږل شويو ټولو کاغذو يوه کاپې وغواړو؛

۲. **قضائي کتنه:** که ستاسو قانوي وکيل د جلسې محکمې سره قضائي کتنه تفويز کړي وي. مهرباني وکړی له دې سره اړوند ټولو پانوڅخه يوه کاپي مونږ ته راوړي؛

۳. **سفر کولو لپاره نامناسب**: که چيري داسي يو طبي لامل موجود وي چې تاسو خپل وطن ته له سفر کولو څخه منع کوي. د دې لپاره معيارونه ډېر سخت دي. تاسو به يوازې هغه وخت وټاکل شی که تاسو د 7 مايشتو نه زيات اميدواري لرئ يا که تاسو له ډاکتر څخه يوه ليکلي نسخه لری چې ستاسو حالت څرګند وي، تاسو د سفر لپاره نا مناسب ياست. ډيري طبي ستونزي به په پوره توګه سره جدي نه ارزول کيږي;

۴. **د مصوئنې لارې نه شتون:** دا ډېر مشکل دی چې دا معيار پوره کړئ. د کورنيو چارو له وزارت سره سم داسې هيواد نشته چې دا وړانديز ورته کيږي. زمونږ مشاورين يا ستاسو نماينده به وتوانيږي چې تاسو ته ووايې چې دې تغير موندلی دی؛ يا

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council is a charity registered in Scotland.
Registered Charity: SC008639

**۵. ارادي راګرزيدل:** که تاسو کولای شي ثابت کړی.چي تاسو خپل هيواد ته د راګرزيدو لپاره ګامونه پورته کوی. (لاندي وګورئ،ستاسو خپل هيواد ته بيرته سفر؟ )

## د غربت مدرک

د ۴مي برخي ملاتړ د ټاکلو لپاره تاسو بايد له بل ډول ملاتړ نه ځانته وسی. که تاسو د دوستانو، کورنئ او يو مذهبي ډلي له خوا کمک شوي ياست، اړينه ده چي تاسو تشريح کړی چي دوی ولي ستاسو ملاتړ ته ادامه نه شي ورکولای.

که دا ستاسو حالت وي. مهرباني وکړي له هغو خلکو نه چي تاسو سره يې مرسته کوله ليکونه راوړی چي ښيي دوي څوک دي، څنګه دوی له تاسو سره مرسته کوله، تر څه وخته او ولي دوی له تاسو سره خپل کومک ته دوام نه شي ورکولای. دا اخري ټکی ډيرمهم دی.

## د ۴مي برخي غوښتنه څومره وخت نيسي؟

د کورنيو چارو وزارت لپاره ستاسو د غوښتنو پروسيس کيدای شي يو څو اونی ونيسي . مونږ به بهير په منظمه توګه څارو او له تاسو سره چي مونږ د تصميم په اړه پوهه شو ژرتر ژره اړيکه ونيسو، نو له دي مطمئن شی چي مونږ ستاسو د اړيکو جزئيات لرو او که بدل شي نو موږ ته يې وواياست. ستاسو لپاره دا اړينه نه ده چي زمونږ دفتر ته ستاسو د غوښتني پروسي کتلو لپاره راشی. که تاسو هيله لری. که تاسو وغواړئ کولای شي زمونږ بي لګښت تلفون لمبر ۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷ ته تيلفون وکړی (له تليفون نه بي لګښته مګر له موبايل څخه نه).

که تاسو د ۴مي برخي ملاتړ ته قبول شوئ، نو تاسو سره به د اقامت چمتو کونکي په اوسطه اړيکه ونيول شي چي د اوسيدلو ځای ته تللو لپاره نيته وټاکئ.

وکيل به تاسو ته د اوسيدلو ځای وښيي، هغي ته د خپلي اړيکي مالومات ورکړئ او له تاسو نه به د اوسيدلو د تړون لاسليک وغوښتل شي. ستاسو د ځای اماده کونکی د هغي د ساتني مسؤل دی. که تاسو د خپل اوسيدني ځای په اړه پوښتني لرئ، نو د هغوی په واسطه چمتو شويو توضيحاتو په استعمال سره هغي سره اړيکه ونيسئ.

### بيا غوښتني

که ستاسو وړانديز رد شوی، موږ شايد وکولای شو چي ستاسو په نفع يوه بيا غوښتنه وکړو. دا به د کورنيو چارو وزارت په هغو دلايلو پورې اړوند وي چي د ملاتړ د رديدلو لپاره يې ورکوي، دا غوښتنه به په کرويډن، لندن کې يوه خپلواک شخص ته ورشي چي د لومړي رديف محکمه (د پناه ملاتړ) په نوم ياديږي.

تاسو کولای شي چي استناف ته د راتګ لپاره غوښتنه وکړئ چي په خپلي قضيي استدلال وکړئ. د کورنيو چارو وزارت به ستاسو د سفر او تم ځاي لګښت درکړي که تاسو ورته ووياست چي تاسو هيله لری چي راشی.

### خپل هيواد ته بيرته ستنيدل؟

که تاسو خپل هيواد ته د راتګ لپاره د مرستي ترلاسه کول غواړئ، تاسو کولای شي چي د کډوالو له بين المللي سازمان (IOM) سره د دوی د ګلا سوګو دفتر سره په لاندي ادرس اړيکه ټينګه کړئ:

**International Office of Migration (IOM)**
38 Queen Street, Glasgow
۳۸ کوين کوڅه، ګلاسګو
د ناستي لپاره تلفون: ۰۱۴۱۵۴۸۸۱۱۶

**وړاندیزونه او شکایتونه**

ستاسو برخورد د ټول وخت لپاره ښه راغلاست ده او له مونږ سره مرسته کوي چي خپلو معلوماتو او خدمتونوته پراختیا ورکړو،

که تاسو هیله لرى چي د دې په اړه وړاندیز وکړئ چي مونږ څرنګه خپلو معلوماتو او خدمتونو ته پراختیا ورکوو، په مهربانئ سره زمونږ د فیډ بیک فورم ډک کړئ. تاسو کولاى شي زمونږ په دفتر کي زمونږ له کارکونکو څخه يو فورم ترلاسه کړى يا يي زمونږ له ویب پاڼي څخه دانلوډ کړى:
http://www.scottishrefugeecouncil.org.uk/assets/0000/0288/Complaint_leaflet_Pashto_March_2010.pdf

مهرباني وکړى تکمیل شوى فورم زمونږ دفتر ته راولیږى.

دغه راز تاسو کولاى شى خپل شکایتونه د کېوالى د څار دفتر(OISC) ته ووايئ:
http://www.oisc.gov.uk/